دا د هغه وخت خبره ده چې په یوه افغا نی به یی خلـــور دانی هګی ور کو لی .

مګر په اخیستلو به یی د نـــن په څیر سرو نه نه ما تیدل . یوه ورځ زه د ښار په مر کـــزی واټ کی را تیر یدم چی ستر کی می د واټ تر غاړی یوی ګنـــی ګو نې با ندی ولګیدی. پلورو نکی چی د خلګو په ولاړه کړی کی یی سر نه ما لو میده ،همدا چیغی وهلی :

ـ دانه په غیران .. دانه پـــه غیران .

که کتل می چی زمونږ ګاو ندی چار ګل هم ورته ولاړ دی . د چار ګل په لید لو زه هم ورنیږدی شوم او له چار ګل نه مـــی وپو ښتل چی دلته څه خبره اوشه حال دی . چار ګل چی تـــر اوسه په خپله هم له مو ضوع خبر نه وه ، راته وو یل :

ـ حال مالوم نه دی ، خو دانه یی په غیران ده .

دخلکو په ګنډه ګو نه کی ما هم ځان ور واچاوه . کله می چی ستر ګی د پلورو نکی تر مـخ تو کری با ندی ولګیدی ، نـو ما نو مه شوه چی هګی دانه په‌غیران ده. دا چی دوه‌دری‌ورځی مخکی می دانه په شا نزده پولی‌اخیستی وه او له دی حا لـــه نه وم خبر ، بیر ته راو ګـرځیدم او له ځا نه سره می وویل چی رښتیا هم حال مالوم نه‌دی. له هغه وخت نه راهیسی څـو کلو نه ووتل . همدا څو ورځی‌دمخه بیا د بنار په مرکزی وات کی را تیر یدم چی په هما غه‌پخوا نی ځای کی می هما غسی ګنډه ګو نه تر ستر ګو شوه ،او پلورو نکی د ګنډی ګو نـــی په منځ کی چیغی وهلی چی : ــ دانه په شپیته .. دانه په شپیته .

که کتل می چی خپل ګاونډی چار ګل می بیا هم تر ستر ګـو شو . د هغه په لید لو زه هم‌ور غیږدی شوم او له چار ګل نه می وپو ښتنـــــل چی څـــه خبره ده.

چار ګل چـــــی زمـــاغوندی لـــه مـــ ضـوع خبر نه وراته وویل :

ــ حال مالوم نه دی ، خـــو دانه په شپیته ده .

ورو د خلکو ګنډه ګو نه کی په یو څنګ ور ننو تم . کلـه می چی ځمکی ته وکتل نو پـه‌تو کری کی هګی پر تی وی . دا چی دوه دری ورځی دمخه می‌دانه په پنځو س اخیستی وه او له دی حاله نه وم خبر ، نـــوبیر ته له ګنډی ګو نی راوو تـم او له ځانه سره می وویل چی :رښتیا هم حال مالوم نه دی . له‌دی خبری سره مـی د څـو کلو نو مخکی هغی خبری پـــه غوږونو کی ازانګی وکـ ی چـی‌چار ګل د همد غه وات نرغاری راته وو یل :

حال مالوم نه دی ، خو دانه یی په غیران ده .

هومنیاره مرغی په دوو لوموکی ښنلی

عجب کل چی نوی له کلی نه ښار ته راته ، نو پخوا له وا تللو یی دښار د جیب وهونکو په باب دول دول کیسی اوریدلی وی . او چی بیا کل نور ور ته داهم ویلی وو :

ـ دواړه لاسو نه می پـــه جیبو نو ایښی وو ، خـــو د مسرو یس په کنه کو نه کی یوتن راځنی د ساعت پو ښتنـــه وکړه ، ما چی لاس له جیـــب څخه لیری کړ او خپل ساعت ته می وکتل، په همدی شیبـــه کی د هغه بل اند یوال زما جیب وهلی و . پام کوه چی په ټـادغه لو به ونه شی .

خو عجب کل ځان تر کل نور هو ښیار او ځیرک باله . کله چی د موټر و په اډه کی له موټر نه کوز شو او خو قدمه لا نه و ټیر شوی چی یـو تن سپیـن ږیری ور ځنـــی دساعت پو ـ

ښتنه وکړه . عجب گل په شکمن ډول سپین ږیری له نظره تیـر
گړ اوپه چو په خوله ور ځنی تیر شو . غو ښتل یی چی ښاری
سړو یس ته پور ته شی . په تم ځای کی ولاړ واودواړه لا ـ
سو نه یی په جیبو نو تینـگ نیولی وو . یوی نیمزالی ښځی
چی سر ویس ته ډیر انتظـارستړی کړی وه دساعت پـو ـ
ښتنه ور ځنی وکړه . عجب گل یوه له کنا یی ډکه مو سکـا
وکړه او ښځی ته یی وویل :
ـ تروری ! زه گل نور نـه یم چی ته می جیب ووهی ، ما
ته خلك عجب گل وایی .
ورځه د ساعت پو ښتنه له بل چا وکړه . او په بل ځای کـی
دی روزی ولټوه .
ښځه له دی خبری سره چوپ شوه ، خو تر څنگ یوی بلـی
ښځی ته یی د زړه سوی پـه دود وویل :
ـ بیچاره .. ښکلی ځوان دی، خو افسو س چی لیو نی دی .
عجب گل په خپل زړه کـی خو شحا له و چی له دوه جیـب
وهو نکو څخه یی ځان بچ کړی دی . په همدی چر تو نو کی و
چی یو تن ځوان ور ځنی دساعت پو ښتنه وکړه . د خواره کوتی
لکه چی په کرم کمیسیون کـی عر یضه بنده پا تی شوی وه او
تا کلی وخت ته یی ځان رساوه. عجب گل ځوان ته ښه کښتـه
او پور ته وکتل او بیا یی په تر یو تندی ور ته وویل :
ـ وشر میړه ! څه تکړه ځوان یی .. لاړ شه چیر ته کار وکړه..
دغه حرامه روزی چی ته یـی دخلکو له جیبو نو وهی یـوه
ورځ به دی اور میږ در تـه مات کړی .
ځوان چی ددی ډول خـواب انتظار نه در لود ، په حیرانی
ورته وو یل :

ـ وروره ! ما در ځنې د ساعت پو ښتنه وکړه او ته اپلټـــنې وایی .

عجب گل بی له ځنده پـرې ور ود نکل :

ته لکه چې هما غه جیـــــب وهو نکی یی چې د گل نـــور جیب دې وهلی و .

ځوان چې د عجب گل له دې خبرو سره سور او شین شوی و ، خپل سوك یی پور ته کړ او داسی کلك یی په خو لـــه وواهه چې له همدی یو سوك سره یی ځمکی ته ور سره ټاوه ه نور نو ځوان خپله لاره ووهله .

عجب گل یو وخت په هو ښ راغی چې د ما ښام او ماز دیګر پیو ند دی او لو څی پښی اولو څ سردپلی لاری تر څنګ ددیوال بیخ ته پروت دی . په ځان یی گو تی ووهلی او پـام یی شو چې نه په لاس سا عـت شته او نه په غاړه کې واسکټ تر دې حده چې کوم (مرستندوی) لاروی ور ځنی خو لی او څپلی هم وړې وی .

زړه یی و چې دی له چا نه د سا عت پو ښتنه وکړی او ورځنی وپو ښتی چې څو بجی دی، خو له دې ویری چې په ده بـاـ نـــد ی څـو ك دجیب و هـو نکـــی گمـــا ن و نکـــړ ی، نوچو په خو له را پا څیـــــد ه اودخپل کلیوال مامور کرا یـی گو تی ته یی ځان ور سا وه . کله یی چې په گو ته کـــی کلیوال ما مور ته دغه کیســه وکړه ، هغه په خندا شو اوورته ویی ویل :

ـ رښتیا یی ویلی دی چې : هوښیاره مرغی په دوو لو مـو کی نښلی .

د ژوندیتوب وثیقه

زوم می عبدالله دی، خو په په کلی کور کی په کاکا عبدل مشهور یم . زیات او کم پنځه دیرش کاله می په بیلا بیلو ادارو کی د استعلا مو نـــو او مکتو بونو مخو نه ور تـــور کړی دی او شپږ کاله د مخه تقاعد شوی یم . همدا او س چی له تاسو سره مخا طب یـم او غږ یږم ، نوداسی یی وبولی چی ژوندی یم خو زما دغه ادعا په رسمی دفترو نو کی څـو ك نه را سره منی . هغوی وایی چی ته مړیی .

دا خبره می د دی له پـاره تاسی سره یاده کړه چی کـــه چیر ته په بنار والی کی څوك پیژ نی او زما د ژوند یتـو ب تصد یق پری لاسلیك کړی ، ځکه چی نن سبا بی واسطـــی څوك چاته نسوار هم نـــــه ورکوی .

اصل خبره دا ده چی زه تیر کال د تقاعد په معاش پســـی لاړم . د نورو وختو نو پـــه څیر می دسپین کاغذ پر مـخ

هر یضه و لیکله او درلیس له احکا مو ورو سته می مربو طی
څا نکی نه ورورہ . د میـــزتر څټ ناست ما مور چی زما
هر یضه له نظره تیره کـړه ، نو له الماری څخه یی د متقا ـ
عد ینو دثبت کتا پرا واخیست. په کتاب کی زما د پانی لـــه
را اړولو سره د مامور صیـــب بنه بل دول شوه . او راځنـی
ویی پو ښتل :

ـ کاکا ! ټوم دی څه شـــی دی؟

ټوم می ورو پیژاند چی زه عبدا لله داسد الله زوی یم
له دی پیژند گلوی سره دما مورصیب بنه نوره هم والو ته ه
تذ کـــره در ســره شته؟ بیا یی په حیرا نی را ته وویل:

سمد ستی می خپله تذ کره او د تقاعد کارت ورته د میز په
څنډه کیښو دل . د تذ کـر ی او کـــار ت لـه لیـد لـــو
ســـــرہ مـــــا مـــــو ر دلیو نو غوندی چیغی کړی او
په منده له دفتر نـــه ووت د مامور صیب له چیغو او زو ږ
سره دټول ریاست کار کـــوونکی اوحتـــی مـرا جعین دهلیز ـ
ونو نه راووتل . ما هم بیرته خپله عر یضه او نور اسنـاد د
میز له سره را واخیستل او په مامور صیب پسی له دفتر نه
ووتم . کله چی د رئیـــــس صیب دفتر ته ور ننو تـــم ،
که ګورم چی ما مور در ئیس صیب په دفتر کی دکـو چ لـه
پاسه پرو ت دی او زوپ یـــی کړی دی . په خپله رئیس او
دډه خانه سامان یی لاسو نه اوپښی ورته مو ښنی . مامور چی
په هوښی راغی او بیا یی ماته وکتل، نو دویر ید لی مـو ړک

ګوندی یی ګوډ کړل او پـــه منده در ئیس صیب تر میـــز
لاندی ننوت او همدا چیغی یی وهلی :

– مر سته . . هله مه یـــی پریږ دی ، ویی نیسی .

زه لا هما غسی حیـــرا نۍ ولاړوم چی رئیس په تر یـــو
ګندی مخ راوګاوه :

– کاکا ! ته له دی خـــواره کوتی مامور سره څه دښمنـــی
لری چی په مرګ پســـی دی ورته ملا را ترلی ده ؟

له دی خبری سره مـــــی نوره هم حیرا نی زیا ته شوه
او خپله عریضه می وروړاندی کړه :

– رئیس صیب ! زه ورسره هیڅ نه لرم . دغه عریضه می
په میز ورته کیښنو ده ، او دعریضی له لیدلو سره دغـه
چل ور باندی وشو .

مالا خبره نه وه خلا صـــه کړی چی مامور صیب تر میـــز
لاندی په خپل رئیس با نـــدی را غږ کړل :

– رئیس صیب ! خبری مه ور سره کوه . . دا مړی دی .
دده ارواح خبری کوی .

– په کوم دلیل دا خبـــره کوی ؟

– له ما سره رسمی سنـــد پروت دی چی همد غـــه کاکا
دری میا شتی دمخه مړ شـــوی دی او اوس له قبر نـــــه
راپاڅید لی . . ته خویی یـــو ځل خیری ته وګوره .

په پای کی رئیس د ما مورصیب له دفتر نه په مـــلا زم
باندی د متقاعد ینو د ثبـــت کتاب راوغو ښت او له دیـــرو

اړولو را اړولو ورو ستـــــه مالو مه شنوه چې د کوم بـــل خدای بخښلی متقا عد دمړ ینی اسناد یی سهواً زما په پا نه کی رسو لی دی . کله چې دمامور په رګونو کی وینه وچلیده او زه د دفتر داصلاح له پـــاره دده شعبی ته ور ســره لاړم ، نو ما مور صیب را ته وویـــل:

ـ کاکا ! زه پو هیږم چـــی ته ژوندی یی او په کتاب کی سهواً مړ لیکل شوی یی ، خـــوزه په کتاب کی دغه سهوه په خپل سرنه شم اصلاح کولای. په دی کار باندی د ســـــر ی لاسونه غو ښیږی .

او بیا یی پسی زیاً ته کـــړه چې :

ـ که ته غواړی چې د تقاعد پوره معاش واخلی ، نو با ید په رسمی دول ثا بته کړی چې ژوندی یی ، ځکه چې رسمـــی مړی په رسمی سندو نـــــو ژوندی کیږی .

او اوس د ما مور صیـــب: هدا یت په اساس پوره دایو ګال کیږی چې دخپل ژوندیتوب په وثیقه پسی ګر ځم . لـــــه ګاونډ یانو څخه می تصدیقونه اخیستی دی او د کلی ملك هـــم راته لیکلی چې زه ګوا کـــی ژوندی یم . خو اوس د ښاروا لی په ناحیه کی را سره ګو تی ماتوی . یا خو دا چې پـــــه ژوند می شکمن دی اویا هم ...

نوبنت

زموږ په مو سسه کـــی دنو بنت بنسټ د مدیر صا حب شاباز خان له خوا اینبـــو دل شوی دی . څلور کاله دمخه یی دمیز پښه ماته شوه ، د دی په ځای چی د میز ماته پښه پـــه تر کاڼ چو ړه کړی او یا پـه خپله دری څلور میخو نـــــه وربا ندی تك وهی ، دما تـــی پښی پر ځای یی میز ته خـــو پښی خښتی کیښو دی او میزیی وربا ندی ودراوه . لـــه د ی پیښی ورو سته همدیر صاحب شاباز خان د دفتر د میزو نـــو په پښو باندی تاکو ولکید اوداسی ورځ به نه وه چی د میز پښه به نه وه پکی ما تـــــه شوی . د حیرا نی دی خو یـــی لاداوه چی دمیز ماتی شـــو ی پښی به سبا بل سبا ته پـــه خپله باندی پښی کړی وی اوددفتر له شره به یی خـــا ورځ کړی و .

کومه ورځ د موسسی رئیس په دفتر ونو کر څیده او ستر گی

یې چیر ته دمد یر صا حب شاباز خان د دفتر په میزو نـــــو
لګید لی وی چی د پښو پـــر ځای په خښتـو ولاړ وو. ددی
منظری په لید لو سره یـــی شاباز خان ته وویل :
ـ مدیر صاحب محا سبـه !مات میزو نه ولی تر میم تـــه
نه لیږی چی خښتـــی مو وړلاندی کړی دی ؟
شا باز خان خپله غاړه پتـه کړه او درئیس صا حب پـــه
ځواب کی یی وویل:
رئیس صا حب ! تاســـی دیر ښه و فر ما یل، خو پـــه
دی غر یب وطن لږ شـــه زړه سوی په کار دی. تا سو خـو
پو هیږی چی په دی شرایطو کی زمونږ موسسه یو غیران سپماته.
هم اړه ده . که مونږ میزو نـه ترمیم ته ولیږو ، نو د نو یـو
میزونو له خر یداری څخه بـه هم دتر میم مصـارف ډیرشی .
د شاباز خان د خښتو نوښت د رئیس صاحب خوښ شو او
په هماغه ورځ یی په یـــــوموټی نغدو پیسو وویـــا ړه .
کله چی دمو سسی نور کارکوو نکی خبر شول نو یوه میا شـت
به لانه وه تیره شوی چـــی د ټول ریا ست میزو نه د پښـو
په ځای په خښتو ودریـــدل .اوس نو هرچا هڅه کو له چی
دمدیر صاحب شاباز خان پـــه خیر نوښتو نه رامنځ ته کړی .
بله ورځ دخدماتو مدیر دمـو سسی په انګړ کی ونو تـــه
تبر کی نیولی وو او هغه یـی په ملا زمینو غو څولی .
ورو سته ما لو مه شوه چـــی د خد ما تو د مد یر دغه نوښت
د مو سسی له کار کوونکـــوسره د مر ستی په خا طـــر
د رئیس صا حب له خوا تا ئیداو ملا تړ شوی ؤ. خو دا مهمه
نه ده چی په خپله رئیس صـاحب او عمو می مد یرانو دونو

ټنی، ټیټ رتبه ما مورینو دونوڅا نګی او ملازمینو د ونو پانې
کورونو ته یـو ړی .

له دی نو بښت نه وروسته مد یر صا حب شا باز خـــان
د مو سسی په اداری مجلس کی پیشنهاد کړی و چی دریا ست
ټول میزو نه اوڅوکی چی پښی نه لری او په دا غمه جا تـــو
کی را ځی، له شعبا تو را ټول شی او د یو هیئت په وړا ندی
لیلام شی. او ددی له پاره چی د نو یو میزونو او څو کیو پـه
اخیستلو بی ځایه مصرف نـه وی شوی، با ید په « کهنـــه
فرو شی» کی لیلا می سطر نجی او یا هم پرزی وا خیستل شی
او په دفترو نو کی وغورول شی.

دغه نو بښت په هما غـــه اداری مجلس کی تا ئید اود
عملی کیدو له پاره یی د لیلام هئیت وټا کل شو. کله چـــی
د لیلام له پاره د اوطلبی پیل شوه، نو په خپله د مو سسی
رئیس اوشاباز خان داوطلبـی وکړله او له «دا غمه جاتـــو»
څخه یی مو سسه پا که کـړه.

خو تر تو لو په زړه پوری دا ده چی مد یر صا حب شاباز-
خان له تقا عد اخیستلو وروسته د میزونو، څو کیو اوکو-
چونو دو کان پرا نیستی دی اوهما غه پښی چی زمونږ په مو-
سسه کی له میزو نو او څوکیوڅخه تښتید لی وی اومخ پـه
هما غو داغمه میزو نو او څـــو کیو پوری ونښتی ، چی شاباز-
خان د رئیس صا حب پـــه مر سته یز کال د مخه د مو-
سسی په لیلام کی تر لاسه کړل.

سیالی

میر داد دیر آرام ژونـــدر لود. نه له چا پوروړی ژ،او له یی څرك پوروړی ژ. خو له هغی وړځی‌چی دده تر ځنـــگ کور ته نوی کډه را غله ،وړځ یی بده شوه. په لو مړی وړځ هغوی نوی کور ته د را تللو په‌خاطر خیرات وکړ، او هوه پسرـ له یی حلال کړل، لـه دی‌پرته د هغوی له ځان شو کت څخه دا سی ما لو میدل چی دنـوروکلیوا لو په نسبت یی ژونـد ښه‌دی. زامنو او لو نو بـــه یی چی کوم نوی ځی اغو ستی ژ او کو څی ته به راووتل نـومیر داد به هم پله وړځ خپلـو ما شو ما نو ته همغسی شـی له ښاره را وو ړ. دمیرداد گاو ندی به چـــی کلـــه غـو ښـــه را وړ ه لو په خپل انگړ کی به یـــی‌د انگار له پا سه وړیتو لـــه لر د کباب لو گی په یی دنورو گاو ند یانو پوزی‌وو ځخنو لی. آخر میر داد هم ار شو چـــی‌په خپل انگړ کی وخت نا وخت

غو ښه د سګرو تو له پا سه وریته کړی.

په نیمایی کلی به چـــــی دمیر داد دنوی ګاونډی دغو ـ ښو لو ګی وزری خوری کړی‌وی، نو په دی پا تی کلی ګی په د میردادله کوره د پسه دسو یو وړیو لو ګی حکمرا نـی ګو له. نورو بی وزلو کلیوا لوچی د غو ښی وس به یی نـه در لود، نو د میر داد او دده دګاونډی د کور د لو ګی پـــه بدرګه به یی وچه سپوره ډوډی تر ستو نی تیروله .

تول کلی حیران وچـــــی په دی دوه کورو نو ګی هـره وریځ دا دومره غو ښی لـــــه ګر مه کیږی. او له دی تو لـو زیات بیا زردا نو ما مـــــاد غو ښی بوی په زړه سـوری کړی و. خواره ګو تی ملا مته نه و، ځکه چی دوه میا شتـی تبی یی تیری کړی وی او زړه یی په غو ښه پسی سوری و.

یو ماز دیګر چی دمیردادله انګړ څخه د پسه د سو یو وړیو لو ګی هری خوا ژبی اچو لی،زر دا لو ما ما بی‌طا قته شـو او له خپل انګړ څخه یی دیوال‌ته زینه کیښو ده. زړه یـــی ژ چی د دیوال له سره میرداد ته ووایی چی د حلال شوی‌پسه لړ مون ور ته ور کړی، کلـه چی په زینه ورو خوت او لـه دیوال څخه یی سر ور ښکاره کړ، نو نیږ دی ژ چی له ډیری حیرا ـ تی یی له خو لی کریغه ووځی،ځکه چی د دیوال له سره یـی ولیدل چی میر داد او ښځـــــی یې زور لیمځی داورله پا سه نیو لی دی او سو ځوی یی. اوها خوا د میر داد د ګاونډی له کوره هم د سوی پسه لو ګـــی په کلی خپور دی.

په سبا آوازه شوه چې میر داد کور په ګرو ور ګ
او په بل ځای کې بې کورپه کړا یه نیو لی دی.اه شو
ورځې لا نه وې تیرې شوی چې د میر داد نوی ګاونډی هم
ډېرل شویو بستړو پندو ټه د کور تر مخ کړا چې ټه
پور ته کړل. ورو سته لـــه پنځلسو ورځو کلیوال خبر شول
چې میر داد او دده ګاونډی په یو کړا یی کور کې اوسیږې ■
لیمه کړا یه میر داد او نیمه دده ګاونډی ور کوی . اوددوارو
ټومره وس نه رسیږی چې مستقله حو یلی په کړا یه
ونیسی ■

مدیر صیب په خط خوبه پوهیږي؟

بشپړه یوه میاشت یـــې د یوې عریضې د احکا مـــو له پاره په جاده کې کو تـــه ئیږ لې وه. کله چې د عریضې دعا قبو له شوه، او هغـــه د چا خبره داګر مګر امر ورباندې ولیکل شو نو خواره کوتې عریضه د دفتر ونو دفو ټیال میدان ته راوو ته. په لو مړۍ دفتر کې د وړدې او صادرې ما مور پوره پنځه دقیقې عریضه وا ړوله را وا ړوله، خو داحکامو په لو ستلو بر یا لې نه شـو. بیا د دفتر ځړو لاس پـه لاس وګر ځو له او آخر یې د مدیر صاحب په میز کیښو ده .مدیر صیب لې ځان د هر دول خطو نو متخصص بل له دقیقې عریضې د احکا مو له لو ستلو عا جـز شو. ددې له پاره چې خـــان یې له سر خوږې خلاص کړې وی ، نو عریضه یې تر لاس لاندې دفتر ته ولیږه له او د هما غـو احکا مو لاندې یې ولیکل چې: «طبق احکام فوق اجرات گردد».

رشید خولی

په دی دفتر کی هم لـــه مد یر څخه نیو لی بیا تر تا-
یپستی پوری تو لو د عر یضی په احکا مو ځان ستړی کړ، خو
ور با ندی ونه پو هیدل چـــی په چا پوری اړه لری او پـــه
احکا مو کی یی څه لیکلی دی. بی له دی چی په عر یضـــه
څه ولیکی بیر ته یی دعارض په لاس ور کړه.

عارض خوا ړه کو تی بیـــاعر یضه پخوا نی مد یریت تـــه
یوړه خو احکام چا ونه شـــوای لو ستلای ، او نه هم مد یرصیب
دا جر ئت وکړ چی په تحریراتو کی د احکا مو له لیکونکـــی
څخه پو ښتنه وکړی، ځکه چی دا یی د ځان کسر شان با له.

اوس نو دا پړه دو همـــه میا شت ده چی د عر یضی خا-
وند دفتر په دفتر کر ځی اوهر یوه ته وا یی چی:

ـمد یر صیب، په خط خـو به پو هیږی؟ دغه عر یضـــه
خو را ته ولو له.

هغه ټیره زړځ چی نـــور په دفترو نو کی ستړی شوی ؤ
د ښار په وا ټ کی یی یو تـــن دریشی کړی درولی وو او عر-
یضه یی ور ته نیو لی وه. که څه هم له ما لیری ؤ او غږ می
له او ریده ، خو له څیری اود شو نه نو ه له ښورولو یـــی
وپو هیدم چـــی هغه ته یی هم ویل: «مد یر صیب په خط خـو
به پو هیږی ؟ دغه عر یضه خورا ته ولو له ».

په توت کی ختلی و او ټـوتان یی خوړل ، کله چی لـــه پوی څانګی نه‌بلی ته پوری‌کیده، نو خو لی یی په څا نګه ولګیده او لاندی په ځمکه را ولویده، خو لی د نا شکن ګیلاس یاقاب غو ندی تو تی، توتی شوه .شدل‌تو تان خو شی کړل او له هما- غی لوړی څا نګی څخه یی په خپله میرا ثی خو لی پسې‌راتوپ کړل. دخولی تو تی یـــــــی‌په خپله خیر نه لمنه کی راتو- لی کړی او په منډه یی د کلـــی په بازار کی‌چا ینك سا زتـه یوړی ، څو هغه ور باندی‌پتری‌ووهی او د خپل نیکه میراث‌له سره لیری نه کړی.

پتره ګریا چاینك جوړوونکی‌چی دغو تورو او خیر نو توتو له حیران حیران کتل، شـدل‌ته وویل :

دا څه شی دی چی ته وربا-ندی پتری وهی، د لر ګی کا- سه ده، که کوم لو ښی دی ؟

شدل ور توپ کړل او دپتره‌ګر په لاسو لورا پر یوت اوپه عذر یی ور ته وویل:

ـدا می د ئیکه میراث دی‌چی‌پلار ته می پا تی ؤ.. پلار مـی دغه میراث ما ته پر ینبـــی‌او لوظ یی را با ندی ایښـــی دی چی زه به یی خپل زوی‌ته میراث پریږدم .

پتره گر بیا په‌حیرا نـــــی‌ور ځینی وپـــو ښتـــــــل ـمگر ودی نه ویل چـــی‌داځه شی دی؟

ـ دازما دنیکه خو لـی‌ده .زماله پلارنه نه‌کور ،نه پیسی اونه‌هم مال په‌میراث پاتی‌دی.همدا یوه خولی ده چی نیکـــه‌ مې پلارته ، پلارمی ما تـــــه اوزه به‌یی‌هم خپل زوی تـــه‌ میراث پریږدم.

پتره‌گر چی دخو لی توری‌ا وخیر نی تو تی په گو تو هاخوا دیخوا اړ و لی او په یـــــو ه‌معنی لرونکی موسکا یـــــی ورته کتل، ضرور یی په‌زړ ه کی‌ور گرځیدلی‌دی چی:

موږ بایدرا تلونکونسلونو ته دپوهی اوعلم میراث‌پریږدو ، نه‌چی دخپل نیکه خیر نـــــه او توره خو لی له یونسل څخه‌ بل‌نسل ته ولیږ دوو.

مامور سمندر څنګه تقاعد شو

له هغی ور ځی چی د جلب او احضار ګرو پونه راوو تـــل ،
ټو ورسره جوخت اتلـــــس تنو اوشل تنو ځوانانو تـه
څلویښت کلنی او دوه څلویښت تنی تذکری هم راوو تـــی .

مامور سمندر چی څو کالـه پخوا د تقاعد په پو له نا ست و
او په کور کینا ستلو ته یی ورځی شمار لی ددو همی تذ کری په
اخیستلو سره خپل عمر پنځـه ویشت کلنی ته را تیټ کـړ .
او بشپړی شپږ میاشتی پـــه دی پسی سرګردا نه وو چـــی
په نوی ند ره لی تا ځل شو ی عمر یی د سوانحو په دفتر لـی
ورساوه ،حال دا چی سمندرحا ن پوره دیرش کاله دمامو ریت
په حاضری ځلاسلیك ډری وو اود کوپو ن فورمی یی د لـی
ډری وی. چی په دی حســـا ب مامور سمندر له ز یږیـــد و

څخه پنځه کاله دمخه دماموریت په څوکی ناست وو.

کله چې سمندر خان د سوانح په دفتر کې دنوی تذکرې اصلاح شوی عمر ورساوه اودد فتر د همکا رانو کو لمې یې د یو ی غوږی میلمستیا په ورکو لو سره غوږی کړی ، نوپه سبا، پل سباد احتیاط د دوری اعلان وشو. له اعلان نه دوه ورځې وروسته دمامو رینو مد یر سمندرخان داحتیا طددو ر ی د تیرو لو له پاره پو ځې کمیسا ری ته معرفی کړ ، ځکه چې په رسمی دفترو نو کې یې عمر پنځه ویشت کاله وو.

کمیسار ی ته دمعر فی کو لو مکتو ب لاتر تایپ لا ندی ووچې سمندر خا ن په دفتر کی دنارو غې رقعه کیښوده اودفتر یې خوشی کړ . بیا تر شلو ورځو پوری چا سمندر په د فتر کې ونه لید. خو شلمه ورځ په داسی حال کې چې خپله پخوانی مړه شوی تذ کره یې بیرته راژوندی کړی وه د مامورینو په مد یر یت کې راښکاره شو.

دمامو رینو مدیر چې لو مړ وخت یې دحا ضری په سر له سمندرخان سره خبره لا ندی باندی کړی وه په رسمی دفترو نوکی ددو هم ځل اصلاح شوی عمر له اسنا دو سره پوځای مامور سمندر خان ترهغې پوری پری نښود، څو یې په عدلی طب اودښار په یوو لس کو نو نا حیو ونه کر ځا و ه .له پنځو میاشتو منډو لړ ووروسته سمندر خان بیر ته خپل عمر اصلاح کړ، خو له اصلاح کیدو سره سم وخت یې دخپل تقاعد مکتوب هم ترلاسه کړ.

نوښتګر

هغه وخت چې لږ کې قیمه سول، نونو ښتګر وحلبي
چور وونو دلږ ئیو دبخا ر یو په ځای دیزلی بخاری اختراع
کړی. خو کله چې دیزل قیمه شول، نو بیادا لږ تیا پیدا
شوه چې نو ښتګر ماغزه دژ مې دساړه په مقابل کې د مقا بلې
له پاره یو تود او ګرم نو ښت رامنځ ته کړی .دا ځل دد غه
نو ښت، نو ښتګر زمونږ دریاست نوښتګر رئیس دی. رئیس
صیب د ژمې په در شل کې دلرګیو، سکرو، دیزلو
اودسو ن دنورو موادو په ځای دیوی بلې لارې چاری دلتو یو
له پاره یو ځانګړی کمیسیو ن وتاکه ، خوهریاست کار تو ونکی
دژمې له سړو څخه روغ رمټ پسر لی ته و با سي،
کمیسیو ن پوره یوه میا شت خیر نی او معلومات تر سره
کړل، خو یې ددغو خیر نو نتیجه په ځلورو مادو کی دخپل
نوښتګر رئیس په میز ور ته کیښو ده.

په نتیجه کې لومړی وریانت داووچې ماموریتو ته و چ توتان
او چارمغز ورکړ ل شي ،ځکه چې تو تان او چار مغز د
انسان په بدن کې بودو خه تولید وی . خودر ئیس صیب
ځنده ددی مادې په لوستلو سره تروه شوه اود کمیسیو ن
غړو ته یې مخ ورواړا و ه :

ـ ستاسی لکه چې اشتها بنده ده؟ یو پلو وچ توتان په دو ه
سوه افغانی دی. په پنځه پا وه والله کې یوا ز ی دکنستر و ل
مدیر هم تودشي. دامساده دی حذف شي .

له دی وروسته په دو همه ماده کې لیکل شوی وو چې ځکه
توتان او چارمغز نه وی ، نو په دفتر ونو کې دی صندلي
کیښودل شي دصندلیو په ایښو دلو باندې نیو دی وو
چې فیصلی ته ور سیږي، خو داچې د صندلي د تو دو لو

له پاره دسون مواد و تـــــه ضرورت و، تو له دی نظر څخه هم صرف نظر وشو .

دنتیجی په در یمه مـــا د ه کی را غلی ووچی : بله شبـــه لاره داده چی ما مورین لـــه کورو نو څخه دځان دتو دو لـــو له پاره مشکو لی راو ړی ،خورئیس صیب وو یل:

ـدا هم نا ممکنه ده. کـــه دمشکو لو اجازه ور کړو، نـــو داو بو دمشکو لو په ځای به یی سبا ته بر قی مشکو لی راوړی وی. له دی نه هم ټیر.

خو څلورم وریا نت یا نظرچی په لو ستلو سره یـــــی دنوښتگر رئیس تښته وغو ږیده او خوله یی تر غږو نو پـــوری په خندا خلا صه شوه داسی ؤ:که چیر ته پور ته دری نظرونه دتطبیق ور نه وی، نـــــودکمیسیون غړی په دی نظر دی چی ما مور ین با ید سپورت ته وهڅول شی، ځکه چی سپورت او ادمان د انسان دتود وا لـی له پاره ښه او منا سبه لاره ده.

کله چی دغه ماده د کمیسیون په غو نډه کی ولو ستل شوه، رئیس صیب وویل :

ـوا قعا چی سپورت دتـودوا لی او ښه صحت له پـاره منا سبه لاره ده.

او د دغه بی ساری نو ښت له بر کته چی زمون د نوښتگـر رئیس د نو ښتگرو مغـــزوزیږ نده ده، د ریا ست تـــول کار کوونکی د سهار له اتـــو بجو څخه د رسمی وخت تر پایه پوری په منظمه تو گه سپورت او اد مان کوی. چی په دی دول دسون د مواد و په سپما سره د ریا ست بود جه له (کسراتو) څخه په امن کی ده او هم مـــود دود جنو بخاریو له دود څخه ژغورنه مو اند لی دی.

د قصاب د زوی کوژده

زمون په کلی کی د قصاب‌د زوی کوژ ده ډیره مشهوره‌ده، داسی خوا ښی او خسر به نـه وی چی د خپلی لور د کوژدی‌په وخت کی یی زوم ته د قصـاب‌د زوی د کوژ دی تانه نه وی‌ور‌کړی .

ډیری پیعلی د پلار په لور زړی شوی . او دا ځکه چـی هغوی د قصاب د زوی کوژ ده په خوب لیدلی له ، خو د قصاب د زوی کوژ ده د چا په وس‌نه وه پوره .

نور گل اکا چی د قصـاب‌د زوی له خسر سره یـی دکور دیوال شر یك دی، پـه دی باب دا سی ټکل کوی:

* * *

... په هغه سهار یـی‌د میر باز د کور تر مخ دولس پسو نه، دوه غوا یان او یـو اوښ حلال کړل. هر چا به چی سری مری او حلال کړی پسو نه لیدل، نو یو ځل بـه یـی پو ښتل چی:

ـدا څه خبره ده؟

او بل په بې له خندې ووت ـــه ویل :

ـخبر نه یې؟ دا خو د قصاب دزوی کوژ ده ده.

پسو نه پا ندی په کو شـه کی حلا لیدل او بیا په یې دننه
د میر باز انگر ته ننه ایستل. په کوژ ده کی یې زموږ دکوشی
هیڅوك هم نه وو خبر کـــړی. کو څه وال حیران وو چـــی
دا پسو نه د چا لپاره حلالیږی. د میر باز د کور کړ کی تر لی
وی اوپر دی ورته څوږ ندی وی. چا به ویل چی شپی ورتـــه
میلما نه را ځلی دی او هغوی ځکه دباندی نه را وځی چـــی
ستر کوی. او چا به ویل چـــی میلما نه ورو سته ور ته راځی.

ورو سته له هغی چـــی پسو نه حلال شول، دوه دری
سر پوښ لمی تا نگی (کاډی) دمیر باز د کلا په لو یه دروازه
ور ننو تی او له یوی شیبـــی ځنډ نه وروسته بیرته راووتی و
هیڅوك ونه پوهیدل چی په دی سر پو ښلو تا نگو کی څه راوړ
پروت ؤ. خو یـــوازی زه ددی پیښی شا هد وم چی حلال کړی
پسو نه اوغوا یان یې په تـــا نگو کی وا چول او په خپلـــه
مخه یې یوړل. دا ځکه چـــی پخوا به قصاب د خپل دو کان
له پاره په کور کی حلا لـــه کو له او دا ځل یې هما غـــه
د دو کان پسو نه د میر بـــاز دکور تر مخ حلال کړل او خلکـــو
ته یې دا سی وښوده چـــی پسو نه یې دکو ژ دی له پاره
راوستلی وو دغه شیبه زه دکور له انگر څخه میر بـــاز
الید لی وم چی د بام له سره می ور ته کتل. زه لا په زینو کـــی
له وم را کوژ شوی چی میر باز یو د پسه سر او څلور دغوایی
پښی زموږ د کور پـــه دیوال را وا ړول اوورویی را ته وویل:

ـ بام کوه چی چا تـــه دی څه شی له خولی وله وځـــی و
هم هغه سر او پښی وی چی تر ننه پوری می د قصـــاب

نومونه څه دول ایښودل کیږي؟

دزوی دکوژدی راز پټ ســـاتلی و. خو ئن یې‌ځکه وا یـــم چې تیره وریځ می د زوی لـه‌پاره مر که لیږ لی وه اودلور پلار په یوه خبره تینګ ولاړ وچې :

ـکوژ ده با ید د قصـاب‌دزوی له کوژ دی کمه نه وی:

او زما چې دا ډول کوژده‌په‌وس پوره نه وه، نو مجبور یم چې د میر باز د را کړشو یـوسر او پښو حق السکوت مات کړم او هما غسی یو د پســـه سر او څلور د غوا یی پښـــی پیر ته د میر باز کور تـــــه یو سم ، او بیا په زوره ناری کړم چې : د قصاب دزوی‌کوژده یا نی څه؟

یوا زی لو یان نه دی چـی په ما شومانو نو مو نه وړدی، لکی ما شو مان هم کله کله په لو یا نو دا سی نو مو نـه وړدی چی د عمر تر پا یه پوری له ســړی نه لیری کیږی.

زمون په کلی کی ماشومان زیات شمیر لو یا نو ته کا کـا وا یی. ددی له پاره چی دغـه کاکا گا ن یو له بل سره وپیژ- ندل شی نو ما شو ما نو په دی دول سره بیل کړی دی:

یو تن چی پخوا به یی هـروخت د بو سو پند په شـاؤ او غوا گا نو ته به یی بوس راوړل، اوس د بو سو کاکا په نـوم مشهور دی. همدا دول د چینی کا کا، بیړی کا کا، د کلو شو کا کا ، د غوا کا کا او .

خو شو ور ځی مخکی زه هـم ددغه دول نوم څښتن شوم. هغه دا سی چی شو میا شتی د مخـه مو په خپله موسسه کی د تیلو پیسی تحو یل کړی او دی تـه ستر گی په لاره وو چی پـه خپله اداره کی د تیلو استحقاق تر لاسه کړو.

ما په کور کی یوه زړه‌فلزی پنج گیلنه در لوده. هر سهار
به چی وظیفی ته تلم نو دبکس‌په څای به‌می پنج گیلنه
په لاس کی نیو لی وه. اومازـدیگربه می تشه توره له دی
ویری چی له دفتر نه ورکه نه‌شی بیر ته کور ته راوړلـه.
په دفتر کی می څکه نه‌شوای‌پر یښو دلی چی دفتر مو کولپ
نه در لود او ویر یدم چی څوك یی پټه نه کړی. ددغی پنجـ
گیلنی وړلو راوړلو څه کـم‌دوه میا شتی دوام وکړ څـو
په پای کی دکو څی ماشوما نـود پنج گیلنی کا کا نوم را باندی
گیښود. پخوا به یی مامورکاکارا ته وا یه خو اوس مـی
په تو له کو څه کی د پنج‌گیلنی‌کا کا په نوم پیژنی .
او که له تا سو پټه نه‌وی، نو په خپل کور کی می کو چنی
زوی او لور هم د پنج گیلنـی‌دا دا په نوم یادوی.

یوه دقیقه چوپ پاتی کیدل

لکه څنګه چې بنې اوخیرې سره بیلی دی، همدا شان د انسا نانو تر منځ کړه وړه او عادتونه هم بیل، بیل دی .
رئیس صیب سر فراز خان چې په رسمی غو ندو کی د خبرو شو قی او لیو نی دی عجیب او غر یب عاد تو نه لری. یو دا چې دو مره یې د خبرو پـه وخت کی ژبه اوشوندې نه ښوری لکه چې لاسو ته ښوروی. پـه دغو لاسو ښورو لو سره یـې زما په یاد یږی چې پنځه شیشه یې جګو نه یې د وینا دمیز لـه سر نه لاندې د سا لون پـه لور الوزولی دی. بل دا چـې له هری یوی خبری سره یـو ګیلاس اوبه په سراروی. همدا وجه ده چې په سا لون کی دوینا د میز له پا سه د مګرو فون په څنګ کی د اوبو نل هم په دی ورځو کی د غزولو په حا ل لـی دی، څو د جګو نو او ګیلا سو نود ما تیدو مخنیوی شوی وی. او ترټولو عجیب عادت یې دا دی چې کله د ستیج سر ته پور تـه

کی، نو د هری یوی بیا نیسی په پیل کی د ډیری عادی موضوع په اړ وند سالون کی حاضر کسان یوی دقیقی چو پتیا ته را بو لی .که دانګړ په منځ کی کوم چا یو ګل هکو لی وی او یایی د ګلونو په پټی کی هسی پښه هم اینبی وی، نو د دغی ترا ژیدی پینبی په اړ تباط حاضر.ین د خپلی وینا په پیل کی یوی دقیقی چو پتیا ته را بو لی.

یوه ورځ یی د ریا ست‌مو تر د کور په سوداپسی بازار ته لیږ لی ؤ او په لاره کی د ډریور د بی پر وایی له کبله د ترا فیکی اشا ری له ډا گی سره ټکرشوی‌ؤاو د مخ هندا ره او څرا غو نه یی مات شو ی وو. بله ورځ یی د همدی زړه در دوونکی پینبی‌له کبله پوره دوه دقیقی چو پتیا ته خلك راوبلل. داعادت یی یوا زی د وینا د میز تر څټ سر ته نه رساوه، بلکی کله کله به یی حتی په خپل دفتر کی د کار د میز تر څټ‌هم مرا جعین یوی دقیقی چوپ پا تی کید-لو ته را بلل. یو وخت می د دغه عادت په باب ډیره دوستا نه فضا کی ورته وویل:

ـسر فراز خا نه ! په زړه کی‌دی څه ونه ل ځی .. سنا دغه عادت چی د هری یوی‌خبری‌په وخت کی خلك یوی دقیقی چو پتیا ته را بو لی، ښه عادت نه دی. دا کار یوازی کله کله د یو چا د مړ ینی‌د یاد ښت په خا طر په لو یو غو نډو او میټنګو نو کی ترسره کیږی، حال دا چی ...

سر فراز خان لږ څه مو سکی‌شواو د تا ئید په ډول یی وویل :

ـپو هیږم.. خو دغه یوه‌دقیقه چو پتیا زما په ژوند کی یوه ستره رو حی آرامتیا ده.هغه هم په کور کی.

ـپه کورکی څنګه ؟ما لومیږی چی په کور کی هم د کور غړو ته رسمی وینا کوی ؟

سر فراز خان چی نیږدی ژما هم یوی دقیقی چو پتیا ته را و بو لی خو خبره یی پـه خو له کی سره وژوو لـــه او بیا یی له یو ژور اوسیدـی سره وویل :

ـکه په کورکی ستا میر منی هم زما د میر منی په څیـــر ډیری خبری کولای ، نـــواوس به په دغه عادت کـی دواړه سره شریك وای. خـردو مره بختور یی چی بنځه دی ګو نګی ده.

او له هماغی ور ځی را هیسی می خپله خوا ره کو تـــی ګو نګی میر من نوره هم راباندی ګرانه شوه، ځکه چی تل چـو په وی او دی ته حاجت نـــه شته چی د رئیس صا حب سر فراز خان په څیر یی هـــره شیبه یوی دقیقی چو پتیا تـه را بو لم .

حساسیت

ما مور صمد ته به دی چـــی د فور می نوم وا خیست، نـــو ځمکه او آسمان به ور با ندی سور تنور شو. څوك نه پوهیدل چی له فور می سره یی په څه ورانه ده. کومه ورځ به چـی دفتر ته دما لیاتو اویا د مـامور ینو د شهرت فور مه را غله نو پوره یوه اونی به ما مور صمـد دفتر فور می ته خو شی کا وه. خو فور مه په خواره کو تی پسی لکه سیوری ورپسی وه. دسوانح له فور می څخه نیو لی بیـــاتر ما لیا تو، د پیشکی معاش، دصدارت دپور، د کور یایـــوی نومری ځمکی له پاره فور می او نوری په لسګو نواو سلګونـــوفور می یی دګی کړی وی، خو له یوی فورمی یی هم خیر نه ولید لی.

د کور په فور مو د کور خاوندنه شو. د پور او پیشکی معاش په فور موچا کو م غیران هـــم ور نه کړ. او تر تو لو مهمـــه یی لادا چی دما لیا تو دفور مـی په ډکو لو سره یی خپلهِ کوڅ دنه (نامزده) هم له لاسه ورکړه. ځکه چی کوڅ دنی یی د سوا نح پـه


یو مامور مساوی کیږي په دوه چرګو

دفتر کی فور مه لید لی وه چی‌صمد د بنځی او ما شو ما لـــو خاوند دی حال داچی مامۍرصمدفور می دډکو لو په وخت لی مجرد و .

له هما غمی راهیسی چی‌مامـــورصمدته به‌چا دفور می نـــو م واخیست، نو په ټول ځان به یی‌لرمی را وختلی. د همد غـــو فور مو له لاسه یی په پنځمـــه‌رتبه کی ما مو ریت خو شی کړ او کرار په کور کینا ست. حو په کور کی هم له فور مو خلاص نه شو. یوه ورځ به د احصا ئیی‌او بله ورځ به‌دنا حیی فور مه کورته ور روانه وه . کـــه‌دژمی له پاره به‌یی سکاره هم اخیستل ، نودسکرو فورمه به‌بی وربا ندی ډکو له .

غو بنتل یی چی د فور می له‌لاسه کور هم خو شی کـړی او ځوم بل ځای ته و تښتی، خـود پاسپورت اخیستلو په وخـــت کی بیخی د فورمو بیـــلاب‌ور با ندی را ووت.

ما مور صمد خان چی ټول‌ځان‌یی دلړ مو له لاسه پو لی‌شوی و، رو غتون ته پنا یـــو وړه.د روغتون د قید او قبول پـــه څانګه کی مخکی له دی چی پـــه کوم تش کټ کی پښی‌وغزوی، نو کر یوال ډا کتر ور ته‌دبسترفور مه ونیوه . دمامور صمد چی ستر گی په فور مه و لګیـدی، دستر گو تور اوسپین یی لاړل راغلل، او تر بستره و نـــه رسید .

کله یی چی د مر حوم ما مورصمد مړی دده خپلوا نو تـــه ور کاوه، نو د خدای بخښلی‌په زوی یی یوه فور مه ډکه کـړه، څو سبا ورځ دمړی دعوه گیـرپیدا نه شی .

او په دی دول له زیږ ید لـــو څخه تر مر گه پوری فور مـــه ور ځنی بیله نه شوه .

ترڅولو لپاره انسان هغه‌ډیر څه ژوند کې ګټه اخیستلی شي، خو
له پېسو سره ډېره مینه کول ډېر ناوړه کار دی. پېسې د ټولو
شرونو او ناخوالو سرچینه ده. د پېسو د ترلاسه کولو لپاره
ډېر خلک له خپلو اصولو څخه هم تېریږي او د ټولنې د
ناوړه غړو په ډله کې شامل کېږي.
د ماموریت د ختمېدو سره سم ډاکټر ګل خان د ټولو
ملګرو څخه رخصت واخیست او د کابل ښار ته راستون شو.
د ډاکټر ګل خان د راستنېدو خبر ډېر ژر د ټولو ملګرو
ترمنځ خپور شو. ټول ملګري د ډاکټر ګل خان د لیدو لپاره
راغلل. ډاکټر ګل خان ټولو ملګرو ته د ډېرې مینې سره
ښه راغلاست ووایه او د ټولو ملګرو سره یې ګرمه مصافحه
وکړه. ټول ملګري د ډاکټر ګل خان د راستنېدو څخه ډېر
خوشحاله شول. ډاکټر ګل خان د ټولو ملګرو سره د ډېرې
مینې سره ناسته وکړه او د ټولو ملګرو سره یې د ډېرې
مینې سره خبرې وکړې.
ډاکټر ګل خان د ټولو ملګرو سره د ډېرې مینې سره
خبرې کولې. ټول ملګري د ډاکټر ګل خان د خبرو په اوریدو
ډېر خوشحاله شول. ډاکټر ګل خان د ټولو ملګرو سره د
ډېرې مینې سره ناسته وکړه او د ټولو ملګرو سره یې د
ډېرې مینې سره خبرې وکړې.



که چیرته داوره اوره شوی وای ریو ...

تر ستر گو شوه د پا تی پـــه لید لو سره د خپل معاش پـــه چرت کی شو. ژر یی قلـــــم را پور ته کړ او د کاغذ لـــه پاسه یی و لیکل: « د یو تـــن ما مور معاش دری زره افغانی» بیا یی دری زره په دیر شـــو ورځو تقسیم کړی چی حاصل یی سل افغانی را وو تـــبی. دسلو دغه ټوی عـــدد یی د دوه دا نو هګیو د سلو له عددسره خوا تر خوا و لیکه، له یـــوی شیبی فکر او سوچ ورو سته یی بی له دی چی چا ته یی پام شی په لږ غږ ته په وا یی چی له مو دو ، مودو ور که یی پیدا کړی ده چیغه کړل:

ـ پیدا می کړ :

اوله دی سره سم یی دکاغذ په پای کی و لیکل چی :

«یو ما مور مسا وی کیږی په دوو چر ګو» .

ما مور قلم خان په دغه ورځ تر نورو ور څو دمخه کور تـــه لاړ. او له رسیدو سره سم یـــی کا لی بدل کړل او جا رو یـــی را وا خیسته ښځه یـــــی ددی پیښی په لید لو سره تـــر دی حده هکه پکه وه چی له پو ښتنی کو لو هم پا تی شوه .

ما مور قلم خان د چر ګا نـــومر غا نچه چی د څو کلو نـــو را هیسی چا نه وه پا کـه کړی، په جارو پا کـه کړه او په رنـــا ماز دیگر یی خپله بستره پکـــی هواره کړه له هما غی شپـــی را هیسی ما مور قلم خان پـــه مر غا نچه او دده دوه چر کـــی د خوب په خو نه کی د قلم خان دکټ له پا سه بی غمه خوبونه وهی .

کله چی څوك په دی باب له ما مور قلم خان څخه پو ښتنـــه وکړی، نو هغه په ځواب کـــی وایی چی :

ـ زه او زما دوه چر گی یـــو دول عا ید لرو کله چی عا یـــد مسا وی وی، نو با ید حقوق هم مسا وی وی. څو مره وخت چی زما چر ګو په مر غا نچه کی تیر کړی، هغو مره وخت بایداوس زما په کوټه کی د کټ له پاسه تیر کړی . او زه هم تر هغـــی پوری چی په عا ید کی می لـــه خپلو دوه چر ګو سره تو پیـــر رانه شی، له دی مر غا نچـــی څخه د وتلو حق نه لـــه ور کوم .

موږ چې کله کله په دفترکې اوز کار شو، نو بیا خیال پلـو
وهو. خو له نا سو دی پته نـه وی چې هره ورځ خیال پلووهل
هم زموږ غو ندی مفلسا نو لـه پاره نه میلا ویږی. نو بیـا
مجبور یو چې د خپل توان پـه اندازه وخت نا وخت په خیـال
کچا لو، خیال شلغم خیال کدو او خیال شکنه باندی وخـت
واړوو.

خو ورځی مخکی میرزا کچکول احوال را وړ چې یو کیلـو
کچا لو می په سل افغا نـی واخیستل. ددی بد خبر پـه
اوږیدو سره مو د خیال کچا نودیک دسر له منقل څخه راکوز
کړ، او د یو بل ارزان څیز پـه لټه کی شوو. ما مور غیران کل
چی د دفتر له کړ کی څخه بهـر دسپینو واورو پا غو ندو تـه
دوه ستر کی څلور کـړی وی، سمد لاسه یی له خیال کچا لو
څخه را پیدا شوی سکوت مات کړ او ویی ویل:

ـ که چیر ته دغه سپینـه واوره اوږه وای نو څه مزه پـه
می کړی وه.

میرزا کچکول چی پښځه ورځی یی د کو پون د مغا زی تر مـنځ اوږو ته تیری کړی وی او څـه شی لاس ته ـه و ور غلی، دزړه له نیته تر خو لی ووتل :

ـ کا شکی همدا سی شـــوی وای .

له دی خبری سره موږ تو لوپه پوره مینه د انګړ منځ تـــه وکتل او دا سی ما لو میدل چی په دی یو نظر مو څو څو بوجی له دغو آسما نی اوږو څخه ډکی کړی. خو یوازی جمدر و چـی د نه رضا یت په بدر که یـــی ستر گی له کړ کی دننه دفتـر ته را وا ړولی. میرزا کچکـول چی د جمدر نا خو ښی د هغـه په ستر گو کی و لیده. نـــوور ته ویی ویل :

ـ تا لکه چی کنـــد وان ډک کړی دی او اوږو ته دی ضرورت ړ ته شته ؟

د جمدر ور بوز نور هم خوږ ند شو او په خپګان یی خـــواب ور کړ:

ـ که تاوک کړی وی، نو ما به هم ډک کړی وی. زه اصـلا له دی سره موا فق نه یم چـی واوره دی اوږه شی .

نیږدی و چی له دی خبری سره موږ تول لکه جنګی چر گا نـــو څو ندی په جمدر ور توپ کړو، خکه هغه غو ښتل چی دغه وږ یا او آسما نی اوږه زموږ له نوکو وبا سی. جمدر زموږ په نیتو نـو و پو هید او په یوه تر خـــه مو سکا یی زموږ د قهر څپی تر واوړو هم سړی کړی، پـــــه نیو لی غږ یی وویل:

ـ زه خکه له دی خبری سره موافق نه یم چی په کرا یی کور ګی اوسیږم. که چیر ته واوری اوږه هم شی نود کوردخاوند له له لاسه زه څه چی زما چر گه هم له کو تی څخه بهر نه شـــی وا وتلی .

میرزا کچکول بی له دی چـی په دی خبره څه سوچ وکړی، پری ور ودنګل:

خانله ته په کرا یی کـــور کی نه اوسیږی، موږ هم پـــه

کمال یہ شخص کیا دی؟

گرا یی کورونو کی اوسیږو که کورو نه مو خپل نه دی نـــ
د با ندی په کو خو او غرونـو کی خومو بوجی ور ځنی د کوه
لای شوی .

جمدر بیا یوه ما نا لرو نکـی مو سکا وکړه او ویی ویل:
ـ له کورونو څخه بهرساحه ددولت ملکیت دی. دولت به
دغه اوږه په خپلو گدا مو نو او سیلو گانوکی خوندی کړی
او موږ بیا هم مجبور یو چـی په میاشتو ، میاشتو د کـوپون
دمغا زو تر مخ ور ته انتظـار وباسو .

جمدر ربښتیا خبره کوله، ځکه چی څوك خپل کور نه لری او
گرایی کورو نو کی اوسیږی نو دا خیال پلو دی هم نه وهی چـی
گا شکی واوږه اوږه شوی وای.

یو سړی د وات په غا ږه‌ولاړ و او طو طیان یی خر څـــول.
پلو رو نکی یو طو طی د لاس په څټ، بل په مټ او دریم په
اوږه کینو لی و او اخیستو نکی یی ورته رابلل .په دی وخـت
کی یو لاروی ور ته را وګرځیداو پوښتنه یی‌ور څنی و کړه:
– وروره، یو طو طی په څـو خر څوی ؟
پلو رو نکی ځواب ور کړ:
– هر یو جلا جلا بیه لری‌دغه طو طی چی د لاس په څټ مـی
ناست دی ، قیمت یـــی زرافغا نی دی . دا چی په مټ می
نا ست دی پـــه دوه زره، اوداوږی له پا سه نا ست طو طی
بیه دری زره افغانی ده .
– مګر و دی نه ویل چی دوی‌هر یو کوم ، کوم کما لو نـه
لری ؟
پلورونکی ورته په ځواب کی‌وویل :

ـ دغه طو طی چی د لاس په څټ می کینولی دی او بیه یی
ور افغا نی ده ، دا کمال لری چی هم په خپله پو هیږی او هم
بل په خبرو پو هو لی شی . داچی په مټ می کینو لی دی کمال
یی دا دی چی په خپله خبره پو هیږی ، خو بل په خبره نه
شی پو هو لای. او دا دریم چی د اوږی له پا سه می نا ست دی
په خپله خبره پو هیږی اونه بل په خبره پو هو لای شی
لاروی ور ځنی په حیرا نی پو ښتنه وکړه :
ـ نو ددی علت څه دی چی د اوږی له پا سه نا ست طوطی
په خپلو خبرو پو هیږی اونه بل پو هو لای شی، خو بیه
یی دری زره ده ؟
پلو رو نکی یو ما نا لرو نکی مو سکا وکړه او ور ته ویی
ویل :
ـ دا څکه چی په دی نوروطو طیا نو آمر مقرر شوی دی،

پخه اوپه خای خبره

زمونږ په اداره کی له بل هـر څه مجلسو نه او کمیسیو نوئه
دیر دی . د عمو می مد یرا نو له مجلس څخه نیو لی بیا تـر
ماموریتو، تاییستانو،ملاز مینو،دریورانو ، کلینرا نو او حتی
د تحو یلدا را نو او خا نـــه سا ما نا نو پوری په «مهمو» او
«اسا سی» مو ضو عا تو با ندی سره را تو لیږی او مجلسو نـه
کوی .

همدا راز د مجلسو نو ترځنګ د کمیسیو نو نو با زار هـــم
دو مره تود دی چی د حا ضـری د تفتیش له کمیسیون څخـه
نیولی بیاتر دفترونو د پا سی او صفا یی ، د تو میما تـــو،
خر یداری ، د معا شا نو دویش اود سهار او ما زدیګر له خـوا
د ریا ست د انګر د اوپا شـی کو لو تر کمیسیون پوری فعال
دی .

که څه هم دلته دکمیسیونونو مو نه لږ وا خیستل شول،خو
داډول کمیسیو نو نـــه دو مره دیر دی چی زمونږ پـه

اداره کی له عبدل کو پك څخه نیو لی چی د ریا ست څو کیدار دی، بیاتر رئیسه پوری داسی څوك نه دی پا تی چی په دوه‌او دری کمیسیونونو کی غړی،منشی‌او یا مر ستیال نه وی .

زمونږ امر چی دنګراو پـه ونه تیټ سړی دی ددی تو لو کمیسیو نو نـــو ریـاست‌په‌غاړه لری. کله کله د کمیسیو- نونو غو نډی دو مره ډیری‌وی‌چی آمر صیب د کمیسیون دډول او د مو ضو عا تو د جلا والـی توپیر له لاسه ور کوی.

مثلا : د تر میما تو پـــــه کمیسیون کی داو پا شـــی د کمیسیون مو ضوع را منځ ته کوی او هم ددی بر عکس. خو که له دی تو لو پســـی‌را تیر شو ، نو په زړه پـوری خبره په خپله د کمیسیـــون‌د غونډوبحث او نظـر یات دی چی د (مشت نمو نه خروار) په‌تو گه د حا ضری د تفتیـــش د کمیسیون په غونده کی همدانن سهار ور با ندی بحـــث وشو .

د ما مورینو مد یر کل رحمـن چی ددغه کمیسیون منشی هـم دی د حا ضری د کنترول پـــه برخه کی وویل:

ـ حا ضری با ید دری وخته لاسلیك شی. او د حا ضری په کتاب کی دی د سهـــــار اوماز دیگر د خا نو تر څنـــگ د ما سپښین خا نه هم ورزیاته‌شی .

امر دنظر په تائیدو لوسره د کمیسیون غړی مخا طـــب گرل :

ـ څو مره پخه او په څـــای‌خبره ! اداره دغسی چوروو نکو نظرونو ته ستر گی په لاره ده. سر له سبا څخه د حا ضری‌په گتا بونو کی د یوی خا نـــی‌زیا تیدو او خط کشی کیدو له‌ا پاره دخط کشی کمیـــــسیو نـمو ظف دی چی مو ضوع ترغور لاندی و نیسی .

د ما خو ر ښو مد یر غو ښتـل‌چی د خپل نظر د پو خوا لی په

طر کور دلایل هم ورا ندی کړی، خو د خدما تو مد یر
د خبرو نو بت و نیو :

ـ د ما مورینو د مد یر صیب نظر د عملی کیدو وړ نه دی.
حکه چی حینی ما مورین درسمی کارو نو او مصرو فیتو نه وله
گبله امکان لری چی د ماسپښین حا ضری د لاسلیك له پاره
ر او نه رسیږی، چی دیر ښه مثال یی د خر یداری هیئت دی
آمر صیب د نظر په او رید لوسره مو سکی شو اودتائید په
دول یی وویل:

ـ خو مره پخه او په خای خبره! دخدماتو مدیر رښتیا
وایی .

لنډه دا چی د کمیسیون د غو نډی تر پا یه پوری تو لو
ضد او نقیض نظرونو ته د «خو مره پخه او په خای خبره
ده» خواب ویل کیده او دا سی نظر چی د کمیسیون د رئیس
له خوا دی یا منل شوی او یارد شوی وی تر او سه په یو
کمیسیون کی هم نه او ریدل شوی او نه هم د پرو تو کولونو
په کتاب کی ثبت شوی دی .

خو یوازی یوه خبره زمون په غونډونو کی ثبت ده ، او هغه
دا چی : (خو مره پخه او په خای خبره ده) .

د موسسی د ریاست لپاره انتخابات

زمونږ د ریا ست سر پر ســت رئیس سمد لاسه په یو بل ځای کی عمو می او برحال رئیـــس شو. کله چی دده پخوا نی چو کی تشه شوه، نو د ما مورینـــــو خد ما تو، محا سبی او دکنترول مد یرانو ور ته پا یځی او متـی را بد وهلی. او که د ریا ست خا نه سا مان دفتر تو کو لـــپ نه وای اچو لی نو د چو کـــی سفنج به د ځلورو پهلوا نا نو په منگو لو کی د ریا ست تو له فضا نیو لی وه. دا چی د چو کی د نیو لو له پاره څه دوڼ غورزی پرزی روا نی وی ، هغه یو جلادا ستان او سوزه ده ، خو زه به یی لنده در خلا صه کړم .

لنده دا چی د مد یرا نو دغـه دلاس او کر یـوان مبـا رزه او مجا دله یوه ورځ په بله بنـه را بر سیره شوه. دا سی اوازه شوه چی دریاست د چو کی له پاره دی دننه په مو سسه کـی

انتخا بات تر سره شی. له دی خبری سره جو خت د ریا ست په دننه کی انتخا با تی مبا رزه پیل شوه .

د خدما تو مد یر په چې‌دډودې‌خو رلو په سا لون کی دملازمینو دریورانو ،تحو یلدا را نو اودخپل مر بوط مد یر یت دپرسونل مینټنگ جوړ کړی و، نـــــودمحا سبی مد یر به په انګر کی دخپل مد یر یت غړی په خـــان‌را تول کړی وو. همـــــدا راز دمامو رینو او کنترول مد یران‌هم در واخلی .

عینی شا هدا نو ددغی انتخا ـ با تی مبا رزی لو مړ نی نتایج دا سی ارز یا بی کول چـــــی د ما مورینو مد یر به له نورو څخه بړی و تښتوی، ځکه چـــی د سهار او ماز دیګر حا ضری‌په وخت کی به د حا ضری د میز په‌سر ولاړ و او په را تلو نکـــو انتخا با تو کی د بړی له پاره به یی ما مور ینو ته غـــوړی، غوړی وعدی ور کو لی. خـــو هر څه ورو سته بله بڼه غو ره کړه .

کله چې د انتخا با تو صندوق‌کیښو دل شو او د ریا ست په اثار کو ونکو باندی د کا نـــد یدا نو لست وویشل شو، هـــر یو را یی ور کوونکی د لو مړی‌ځل له پاره دا حق تر لاسه کـــړ چې په خپله خو ښه پټ اوآزاددنظر ور کا ند ید ته را یـــــه ورکړی او په لست کی د خپـــل کا ند ید د نوم تر څنګ تشه‌ا خا نه توره کړی .

فور می تو لی صندوق تـــــه‌وا چول شوی او ورو ستـــــــه د انتخا با تی کمیسیون له خواد رایو شمیر پیل‌شول.

لومړی د ما مور ینو د مد یر انتخا با تی نتیجه اعلان شـــوه چې دوه را یی یی تر لاسه کړی‌وی . ور پسی د خد ما تـــو او محا سبی مد یران وو چې‌هغوی‌هم دوه دوه را یی اخیستی وی خو ورو ستی تن د کنتـــــرول‌مد یر و چې ددری را یو په‌کتلو

صره یی خپل رقیبان مـــــات کړی وو .

بی له دی چی څوك دانتخاباتی نصاب د پوره کیدو دعوه سپینه کړی، د کنترول مد یـــــــر اعترا ضو نو په شور اوزوږ کی سا لون خو شی کړ او پـه منده بی د ریا ست دفتر تـــه ځان ور ساوه .

ورو سته ما لو مه شوه چـی د کنترول مد یر ته دریمه رایه دریاست د نقدی حوا له جا تـو معتمد ور کړی وه، ځکه چـــی د تیر کال سندو نه یی پـــه مصرف نه وو رسید لـــی اوه کنترول ویزی ته پا تی وو. او نوری دوه را یی یوه هـــم دده خپله را یه وه او بله هـم دده د زیر دست ما مور وه چـــی ورو سته بیا دده په ځـــــای د کنترول مد یر شو .

غذایی رژیم

زمونږ په اداره کی له رئیس، د خدمانو، حفظ او مراقبت اداری، جنسی او محاسبی لـه مدیرانو پر ته نور ټول لکـه پنسلونو غوندی ډنگر او بـی‌غوښو وو. د غږ می دودی چې په ریاست کی مو خوږلـه، هغی دو مره اثر ډی له لږ لـه چې خوښدی ور ځنی د چا غوالی تمه وکړی. او د اکثر یت کار ګرو نکو په کورونو کی دمانبام او سهار له پلوه دودی هـم د دودی په حساب کی نـه‌را تللـه.

زمونږ په دفتر کی ما مور سمیع تر نورو ټو لو ډنگر او وچ ګلک و. په ریاست کی له‌ملا زم‌څخه نیو لی بیا تر رئیس پـوری ټولو دسمیع چوبك په نـوم پیژاند. د چوبك لقب یـی دخپل ډنگر والی په وا سطـه تر لاسه کړی و.

یو خوبه یی هره غرمه دوه چا نسه دودی خوږله، او بل

په دا سی ځر مه ئه وه چی له آشپز سره به یی د دودی پـه
ویش با ندی له کر یوا نـــه نه نیول .

که رښتیا خبره وی زه هـــم د مامورینو په یو خوراك دودی
نه مړ یدم او هر سهار به مـی له کوره یوه د تبی دودی پـــه
یکس کی له ځا نه سره راوړله نو سمیع چو بك ملا مت نـه وا
چی هره ور ځ به یی په دودی با ندی شخړه وه .

یوه ورځ سهار چی لله مـو حاضری لاسلیك لو له نـــود
حاضری دمیز په سریی پـــه دیوال باندی لیکلی خبر تیـا
را ځړولی وه.. په خبر تیا کـی د ریا ست له تو لو کار کوونکو
څخه هیله شوی وه چی دډودی په سا لون کی په نهه بجی حاضر
وی. نهه بجی چی سا لون تـه لاړو، که ګورو چی د ریا ســت
د صحی کلینیك دا کتر سپینـه چپن د سا لون په کو نج کـی
دخطابی دمیز ترشا ولاړ دی. لومړی یی د عمو می حفظ الصحی
په باب څو تکی بیان کړل اوددفتر ونو په پاکی اوصفایی ی
یی دملازمینو په روَل خبـری وکړی. که څه هم مـو ږ تو لو
مکروب پیژا ند، خو په دغـه ورځ دا کتر صیب موږ دو مـره
له مکروب څخه وو یرو لـو چی د شپی درې ځله دمکرو ب
له ویری په کټ کی راپورته شـــــــــوم.
له دی لنډی مقد مه ورو سته یی دغذایی ژ ړیم خبـــــره
غږ کی ته ور واچو له ، او پو ره تر دولسو بجو پوری یـــــی
وشار بله.

دا کتر صیب چا غوا لـــی دتو لو نارو غیو مورو بللـــه
ددی له پاره چی خدا ی مـــه اکړه وَمو ږ په ریاست لی څو ك
دچاغوالی نارو غی له پښو و نه غور ځوی ، نودر یاست تـو ل
کارکوو نکی یی غذایی ژ یم ته را وبلل.

دهماغی‌ور ځی په سبا دریاست په کار کوو نکو با ندی
دډاکتر صیب له خوا اعلا ن شوی غذایی رژیم عملی
شو، ځکه چی‌غواړی به که لس‌منه وریجی پخیدلی ، نو د
غذایی رژیم دعملی کیدو په‌ور ځ‌پنځه منه هم له‌وی
پخی شوی. دډوډی د و یش‌په وخت کی په خپله ډا کتر
صیب هم‌دآشپز تر څنګ‌ولاړ واو په قا پونو کی یی‌دور یجو
دویش څمخی کنترولو لی. سمیع چوبك چی‌دوه‌چا نسه
د و د ی خوړله نو د غذا یی رژیم دعملی کیدو په‌صو ر ته
آګی‌نیم قاب سپو رو او بی‌مز ی وریجو ته کیناست ،مور فکر
آګاوه چی‌که نور هیڅوك نه‌و ی، نو سمیع چو بك‌خو به ضرور
په‌دغه نوی‌پروګرام‌کی داعتراض غږ پورته کړ ی، مګردډا کتر
خبرو دسمیع چوبك په زهن‌کی دومره پو خ ځای نیو لی وچی
زمو ږ اتکل په او بو لا هو شو.

کله چی‌د ریاست کار کوو نکو دسمیع چوبك سره
سینه ولیده ، نو دغذا یی رژیم په حقا نیت یی نور هم
باور زیات شو.

دوخت په تیر یدلو سره مامورین او ملا ز مان ور ځ له
ورځی دنګر یدل ، خو یوا ز ی دری ځلور تنه : ډ ئیس ، د
څدماتو مدیر ، دکلینیك‌ډاکتر اود پځلنځی اشپز وو چی له
غاړو یی دوه متره پر ی نه تاویده .

له یوی خوا دمامور ینو دنګر یدل او له بلی خوا ددغو
ځلو رو تنو چا غیدل تو لو نه یوه معما وه.

یوه غرمه چی‌ډاکتر دډوډی په سالون کی‌د ډوډی دکنترو ل
په نوم تفتیش ځلوه، نو سمیع چوبك ور ځنی پوښتنه
وکړه:

مصیب اداشنکه غذا یی رژیم دی چی ته پکی ورځ په
ورځ چا غیږی اوز مونږ کو نسی دملا په هد وکو پوری ونښتی ؟
داکترچی دچو پك ترمخ قاب کی دوه کاشو غو وریجو ته
اړ ستر کو لاندی کتل وویل :

ته په خپل ډنگر والی شکر باسه . زما په پوده غو ښو
مه تیرو ځه . که ستا سی په خاطر وظیفی ته نه وای
واغلی ، نوپه ر وغتو ن کی می خان بستری کاوه . تا سو
خوهغه دی دغرمی له خوا لږاودیر خه شی خوری ، که ز ما
خوراك دی ولید، نو به پنځه وخته می هم دو مره
وړدی نه ده خو پ لی ، لکه همدا اوس چی ستاسی ترمخ
اړ ته ده .

خو میاشتی وروسته د خدماتو مدیر له اشپز سره په
خه شی خبره لاندی پا ندی کړه، او ددوی تر منځ دغه شو ر
او ږ پ ددی سبب شو چی دغذایی رژیم پته معا ملی
وا برسیره شو ه .

اشپز دریاست دیو زیا ت شمیر کار کوو نکو ترمخ په
دی اعترا ف وکړ چی د غذا یی رژیم پلان درئیس، دخدما تو
دمدیر ، داکتر او په خپله ددې له خوا جوړ شو ی و (شو) په دی
پول دریاست نیما یی ما کو ل په خپلو لیدو او جیبو تو کی
واچوی .

له دی اعترا ض څخه وروسته بیا چاسپز په ریا ست
اګی و نه لید، ځکه چی په هما غه ورځ یی د کلینیك دوا کتو
په نظر ورکو لو سره خوا ر ه کوتی دارا لمجا نین ته بوت ه
اوشو ور ځی وروسته دخدما تو مدیر په پیښنها د دغه دیپ
طرفی مکتوب درئیس په لاسلیك صادر شو .

PROPERTY OF ACKU 7203



دپشتی په خلورم ښ با
دکتاب دلیکوال پیژ ند گلـو ی
اوس یوه عنعنه گر خیدلی ده او
مږ هم مینه درلوده چی ددی کتاب
لیکوال دروپیژ نو، خو که چـا
دشکایاتو صندوق په نوم دطنزی
داستا نونو مجمو عه لید لی وی،
نود لیکوال پیژ ندگلوی پکی له
غوږونو بیا ترخنگرو پوری ویښته په ویښته راغلی ده .
مور دلته له تکراری خبـــرو تیر یږو او یوازی دغه تصو یر
چی کاتب پاخون له خپل قلم او له خپلی زړی دو سیی سره پکی
لیدل کیږی تاسو ته د کتـا ب دلیکوال په نوم در پیژ نو .

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

آریانا مطبعه